DAILY
ارادہ

سال سوم شماره بیستم و دوم
شماره مسلسل ۱۰۳.
پنج شنبه ۱۰ دلو ۱۳۸۱ هـ ش
۲۸ ذوالقعده الحرام ۱۴۲۲هـ ق
30 January - 2003

د افغان نشراتی مرکز ملي خپلواکه ورځپاڼه

سال تاسیس ۱۳۷۹هـ ش

PROPERTY OF ACKU
AFGHAN MEDIA RESOURCE CENTER AMRC

په بولدك کی ائتلافی ځواکونه سمځی اوغارونه لټوی
په پرونیو نښتو کې اتلس کسان وژل شوي دي

وروسته له دی چی دسپین بولدك په سیمه کی لـه طالبانو او مخالفو ځواکونو سره مخامخ ښکیلتیا پای ته ورسیدله امریکا یی ځواکونه ددغـی سیمی په غرونوکی دهغو سلګونو سمځو او غارونو پلټنه کوی چی ګومان کیږی مخالیفینو پکی ځان خوندی کړی وی یوه امریکایی ویاندویلی چی دیرکسان نیول شوی خودا معلومات نه شته چی څومره نورکسان پاتـی دی .دپرونیو نښتو په ترڅ کی اتلس کسان وژل شـوی دی. دمـتحده ایـالاتو استخباراتی سرچینو ویلی چی دغو یاغیانو د طالبانو دیوه قوماندان په مشری جګړه کوله دوی وایـی چی دغـو طالبانو له ګلبدیـن حکمتیـار سره ائتلاف کړی . حکمتـیار هغـه کـس دی چـی دامریکایانو سره یی جهاد اعلان کړی دی.

سیاسی چوکی دچا شخصی مال نه دی
ماته اوس تر دی درانه او لوړ مسوولیتونه سپارل شویدي

تیره ورځ دولسمشر کرزی له فرمان سره سم دداخلی وزیر تاج محمد وردګ لـه خپلی دندی ګوښـه اوپرځای یـی علـی احمـد جلالـی کورنـیوچارودوزیر پـه توګـه وټاکل شو. اوښاغلی وردګ تـه پـه قومـی چـارواکی دسـلاکار وزیـر او دملـی امنیت پـه شوری کی دغړی دندی وسپارل شوی. مخکی لـه دی چی دښاغلی وردګ دګوښـه توب فرمان په رسمی ډول خپورشـی ده له ازادی رادیو سره په یوه مرکه کی ویلـی چـی سیاسـی چوکـی دچاشخصـی مـال نـه دی . ښاغلی وردګ ددی پوښتنی په ځواب کی چی ستا دګوښه توب لامل څه دی وویل ماته اوس تـردی درانـه اولـوړ مسولتونه را پـه غاړه شوی دی. لـه ښـاغلی وردګ پوښتنه وشوه چی خلك وایی چی ستا پـه خپله دوره کـی دامنیت لپاره چټك ګامونه پورته نه کړل ته څه ځواب لری ښاغلی وردګ وویل هر څوك بـاید دنـیوکو لـپاره سـم استدلال هـم ولری. کلـه چی دپولیسـو معـاش کـم وی ، مسلکی زده کړی ونـه لـری دامنیت ښـه کول خورا سـتو نزمـن کـاردی.لـه ښـاغلی وردګ پوښتـنه وشـوه چـی خلك وایی تـا پـه خپل وزارت کـی واك او صـلاحیت نـه در لـود ښاغلی وردګ په دی اړه وویـل: دا دخلکـو بـی ځایـه تبلـیغات دی زه دبشـپړ صـلاحیت خښتـن وم اوحتـی کله کله می له خپل صلاحیت پورتـه کارونـه هـم ترسره کړی دی.

حمایت دموکراتها از بوش
امریکا در هر اقدام نظامی به متحدین ضرورت دارد

حزب دیموکرات ایالات متحده امـریکا در پاسخ بـه خطـا بـه سالیانه رئیس جمهور بوش راجع به اوضـاع کشور ازمساعی رئـیس جمهـور درجـنگ علیه دهشت افگـنی وازبیـن بـردن تهدیدهـای کـه از ناحیه عـراق وکوریـای شـمالی مـتوجه کشورمی باشد ابراز حمایت کرد معهذا دیموکرات هـا تاکید کرده اند که ایالات متـحده درهر اقدام نظامی به متحدین ضـرورت دارد آنهـا افـزوده انـد بوش باید جهان را متقاعد سازد که صدام حسین تنها به امریکا تهدیـد ومشـکل بـه شـمار نمـی رود در ارتـباط بـه اقتصاد دیمرکـراتها پـلان کاهش دادن مالیات را از جـناب رئـیس جمهـور بـوش انـتقاد کـرده وآن را اقتصـاد سـرچـپه خوانده که اکثرا" منفعت آن بـه دولت مندان می رسد.

تدویر سمینار در رابطه به ژورنالیزم وآزادی مطبوعات

در رابطه به ژورنالیزم و آزادی مطبوعات دیروز سمینارچهار روزه در پوهـنحی ژورنالـیزم پوهنـتون کـابل تدویـر یافت. این سمینار از طرف موسسه غـیر دولـتی میدیااکشـن انترنشـنل دایرگـردیده کـه هـدف از آن آگـاه سـاختن ژورنالسـتان جوان از مفاهم آزادی مطـبوعات اسـت. لوریتایکتـن از کارکـنان موسسه مذکور اظهار داشت: موسسـه مـتذکره درنظـرداردتا در جـریان یکسال ۲۵ تن از ژورنالستان افغـان را تحـت تـربـیه قـراردهد. در ایـن سـمینار استادان پـوهنځی ژورنالیزم ، ژورنالسـتان افغـان ومحصلین پوهنځی ژرونالیزم شرکت دارند.

جلسه شورای امنیت

قراربود شوری امنیت ملل متحد دیروز راجع به اقدامات دیگر درعملیه تفتیش اسلحه درعراق یک جلسه محرمانه مشوره ها را دایرنماید.

انتظار می رود که اعضای شوری براین موضوع بحث نمایند که ایا برای مفتیشین اسلحه جهت پالیدن سلاح ممنوعه در عراق وقت بیشتر داده شود یاخیر. معهذا تا هفته آینده بعداز آنکه کولن پاول وزیرخارجه امریکا معلومات جدید استخباراتی را راجع به اسلحه عراق به ملل متحد ارایه نماید. شورای امنیت کدام تصمیم را اتخاذ نخواهد کرد.

امریکا افغانستان ته ملکی پولیس لیږي

نیویـارك ټایمز ورځپاڼی لـیکی چـی مـتحده ایـالات پـه افغانسـتان کـی دسـولـی دلاډاډمنتـیا لپاره دغـه هـیواد تـه ملکـی پولـیس او شـبـه نظامـیان استوی.

نیویارك ټایمز لیکی چی دغـی څرګـندونی دمـتحده ایـالاتو ددفـاع وزارت مرستیال فـال والفو ویتز کابل ته دسفر په لړکی کړی دی . ده زیـاتـه کړی ده چـی دغـه ملکـی عسـکر بـه دافغانسـتان پـه مهمـو ښارونوکی ځای پرځای شی او د ډاډمـن امنیت پـه راوسـتلو کـی بـه مرسـته وکړی.

دکورنیوچارو وزارت ننګرهار ته لس کسیز پلاوی استولی

دافغانستان دکورنیو چارو وزارت په ننګرهار کی د دولتی او اداری چارو د ارزوبی او جاجونی لپاره یولس کسیز هیت دغه ولایت ته استولی دی . دغه هیت دسه شنبی په ورځ په خپل کار پیل وکړ د دغی پلا وی یوه استازی سمونوال محمد ګل ازادی را ډیوته ویلی چی دوی دنده لری ترڅو دننګرهار په ادارو کی دحامد کرزی او کورنیو چارود وزارت حکمونه وڅیړی چی څومره عملی شوی دی. دی وایی چی وروسته له دی به دستونزو او بریاوو رپوټ داخله وزارت او یا ددولت مشر تا به ته وړاندی کړی . دغه لس کسیز پلاوی دڅارنی او تفتیش دریاست له خوا دغه ولایت ته استول شوی دی. ښاغلی محمد ګل زیاتوی چی دوی به ننګرهار ولایت تولی اداری ځانګی چی پولیس ، ښاروالی د پاسپورت ځانګه او دولایت دمقام اداری چاری هم پکی شاملی دی له نیږدی ګوری همداشان دوی به دلاړو د پوسنو اوولسوالیو بشپړ ګزارش له ځان سره کابل ته وړی . دی زیاتوی چی زموږ تیرو دوه ورځو جاجونه به څرګندیږی چی دننګرهار اداری چاری ښی پرمخ روانی دی.

در صفحه شش بخوانید
جلایش فعالیت های سیاسی
محمود طرزی

در صفحه پنجم بخوانید
زن را مادر را ستایش کنیم!

امروز دهم بهمن ماه (حوت) ۱۳۸۱ خورشیدی است خوشبختانه چله خورد با
برف آمد
به همین بهانه حرکت های در مورد جشن های بهمن در شماره آینده بخوانید

د لوی او بښونکی خدای په نامه
سرمقاله
له یوه لاس څخه ټک نه خیژي

د پښتو پورتنی متل که په ژوره توګه وڅیړل شي نو په واقعي توګه یولوی درس پکې پروت دی. د یووالي درس، د همکارۍ درس او د یوبل ته د لاس ورکولو درس، رښتیا هم که موږ یو لاس په هوا کې خوځوو راخوځوو نو ټك ورڅخه نه پورته کېږی. خو که دویم لاس ورسره یو ځای کړو او دواړو سره ولګوو نو د ټك اواز به یې شاوخوا واوریدل شي چې دا زموږ د اجتماعي ژوند د بهبود د موندلو لپاره یوښه درس دی.

که چیرې یو سړی وغواړي په ځانګړې توګه لوی لوی کارونه سرته ورسوي، نو خامخا به په یوه مقطع کې له مشکلاتو سره مخامخ کېږي او کارونه به یې دخرابۍ او ویجاړتیا په لوري مخه کوي. خو که دغه لوی لوی کارونه او پروګرامونه بیا د خپلو نورو خبیرو او پوهو اشخاصو په مرسته پرمخ بوزي نو یقیناً چې له پورتنیو مشکلاتو سره به یا بیخي نه مخامخ کیږي او یا به یې مشکلات او خنډونه کم وي.

د اسلام مقدس دین هم چې په سلا او مشوره باندې ټینګار کوي یوازینۍ لامل یې هم دادی چې اجتماعي کارونه باید سم روان وي او د یو بل پر مرسته، سلا او مشوره ورخنې تولنیزې چارې سنبال شي، نو موږ هم د اسلام د مقدسو اصولو او افغاني روایاتو پر بنا مکلفیت لرو چې پخپل ورځني ژوند کې د خپلو ټولو هېوادوالو رایه او نظر واخلو او دهغوی د نظر یو او پیشنهادونو په رڼا کې خپل رغنده پروګرامونه پر مخ بوځو.

افغانان خو هسې هم د خپلو اسلامي اصولو او ملي روایاتو پابند دي، خو که کله نا کله د ځینو کورنیو او بهرنیو عواملو له امله د دوی په اجتماعي ژوند کې ګډوډي پیښیږي، نو بیا ورته لازمه ده چې د اسلام د مقدس دین اصولو او خپلو ملي روایاتو ته مراجعه وکړي تر څو د اجتماعي ژوند څرخ یې په بل لوري روان نه شي چې دا زموږ د کامیابۍ او نېکمرغۍ ډېره ښه او غوره لاره ده.

موږ په نږدې تېره زمانه کې ولیدل چې له دغه اصل څخه د غاړې غړولو په صورت کې موږ له څومره زیاتو مشکلاتو سره مخامخ شوو، که چېرې هغه وخت له ملت سره مشوره شوې وای او د ملت د خبیرو اشخاصو رایه او نظر غوښتل شوی او بیا پرې عمل شوی وای نو یقیناً به اوس زموږ په مخکې دغه مشکلات نه وای پراته او موږ به اوس په نړۍ کې دیوه محتاج ملت په توګه د نورو مرستو ته سترګې نه وای نیولې.

تر دې وروسته باید موږ د پښتو پورتني متل ته په پاملرنې سره د خپل مسلمان ملت په مرسته او همکارۍ تکیه ولرو او د خپلو ټولو رغنده پروګرامونو په تطبیق کې دهغوی نظـر او پیشنهادونه د ځان ملګري کړو تر څو وکړای شو ورو ورو په ورځنیو مشکلاتو باندې بری تر لاسه کړو او یوه داسې ټولنه جوړه کړو چې پخپل متې تکیه ولري او د خـپلو امکاناتو په چوکاټ کې خپل ژوند عیار کړي.

د اومر موسسه هېواد ته نوي ټکنالوجي راوړي

د اومر د ماین پاکولو موسسي مشـر حـاجی عـبدالکریم عبدالرحـیم زي ویلـي چـې له دغـې موسسـې سـره د نـاروې هېواد د داسې یوه نوې ماشین مرسته کوي چې په ماین پاکولو کې خورا اغیزمن دی.

ښاغلي عبدلرحیم زی له ازادی راډیو سره په یوه ځانګړې مرکه کې وویل چې دغه ماشین خورا اغیزمـن ماشین دی او تر اوسه پـه ځلورو هېوادونـو کـې کـار کـوي. ښاغلـي عبدالرحـیم زي ددغـه نـوي ماشـین قیمـت ۵.۰ میلونه ډالره ښودلی دی. دغـه نـوی ماشـین Mine Cat یـاد ماین پیشو نومیږي چې په خورا اسانۍ سره د ماین پاکولو دنده پر مخ بیایي. ښاغلي عبدالرحیم زي وویـل چې دغه ماشین چې کلـه د نـاروې لـه هېـواد څخـه افغانسـتان تـه راوړل شـي نـو لومړی به د کابل د هوایي ډګر د مایـنونو سـاحه پـاکوي. او وروسته به د هېواد په نورو برخو کې د ماینونو په پاکولو کې ترې کار واخیستل شي.

ښاغلي عبدالرحیم زي ددغـې نوې او اغیزمن ماشین د تر لاسه کولـو وعده هله تر لاسه کړه چې څو ورځې مخـکې یې د نـاروې هېواد تـه رسمی سفر درلود.

د هم ګټو هېوادونو غونډه جوړه شوه
غونډه کې ددغو هېوادونو اقتصادي پراختیا څېړل کېږي.

د اوکرایـن پـه پلازمـینـه کیف کې د هم ګټو هېوادونو د مشـرانو غـونـډه پـرون جوړه شوه د غونـډې برخه وال وایـي چې پـه دغـه غیـر رسمـي غونـډه کـې ددغـو هېوادونـو اقتصـادي پـراختیا څېړل کېږي.

اوکرایني چارواکي وایي چې کېدلای شي پـه دغـه غونډه کـې د هـم ګټـو هېوادونـو تـر منځ د ازادې سوداګرۍ د سیمې او مارکیټ د تاسیس خبـره هم وڅېړل شي. خو د روسیې ولسمشـر ویلادیمیر پوتین ویلي چې یو لړ ستونزې تـر اوسـه شـته چـې د آزادې سوداګرې د منځـته راتـګ پروسه ډب کوي.

افغانان وایي: د ملت له ملاتړ پرته هیڅ ملي جرګه د دوی نماینده ګي نشي کولی

په دې شپو ورځو کې یو ځل بیا د افغاني او نړیوالو خبري وسایلو له لارې اورېدل کېږي چې که خبر وي نن سبا به دملي جرګې د جوړېدو اعلان وشي او د څه د پاسه نوی تنو افغانانو په ګډون به په هېواد کې د دولت د مقننه رکن تشه ډکه شي او افغاني دولتي قدرت دری واړه قوي (قضائیه) مقننه او اجرایه) به د افغانستان د بیا ودانولو او له سره جوړولو په چارو کې ګرندي کاروانه

د روان کال د جوزا د میاشتې په پای کې یوه داسې لویه جرګه جوړه شوه چې د افغانانو له خوا تر سختو انتقادونو لاندې وه نیمګړې او غیر قانوني ځکه وه چې د افغانانو په دغې ملي عنعنه کې هیڅ ملي معیار ته پاملرنه نه وه شوی، ددغې لویې جرګې یواځینې ښېګڼه دا وه چې لویه جرګه زموږ د ملي عنعنې په څېر د نړیوال ملاتړ ور هم وګرځیده.

تر سره کړای شي او دا هم سمه ده چې یو قانوني دولت باید همدغه ارکان ولري، خو د پام وړ خبره داده چې دغه ارکان باید په څه راز جوړ شوی او را منځ ته شوی وي.

د بن د نیمګړی غونډې د پرېکړو سره سم چې هغه پخپله د افغانانو یوه نماینده غونډه نه وه د روان کال د جوزا د میاشتې په پای کې یوه داسې لویه جرګه جوړه شوه چې د افغانانو له خوا تر سختو انتقادونو لاندې وه نیمګړې او غیر قانوني ځکه وه چې د افغانانو په دغې ملي عنعنه کې هیڅ ملي معیار ته پاملرنه نه وه شوی، ددغې لویې جرګې یواځینې ښېګڼه دا وه چې لویه جرګه زموږ د ملي عنعنې په څېر د نړیوال ملاتړ ور هم وګرځیده.

ددغې نمیګړې لویې جرګې نیمګړې بهیر وښوول چې د افغانانو پنځه ویشت کلن ناورین ته یې د حل لاره ونه شوه میندلای. علت یې دا و چې د غه لویه جرګه د ملت له ټاکل شویو او منل شویو استازیو څخه نه وه جوړه شوی، دا چې په جوړېدو کې یې یو تقلبي طرز العمل د څو محدودو افغانانو له خوا جوړ شوی و او هغه هم تطبیق نه کړای شو نو غړي یې هم په غیر مستحقه توګه د لویې جرګې برخه وال شول او وریسې د بې شمیره نا معلومو منابعو له خوا د خپلې خوښې انتصابي غړي هم پرې ورګډ شول چې په عمل کې د لویې جرګې اصلي مفهوم او د کار طرز بیخي تالا ترغې شو.

دغې لویې جرګې یواځې همدومره وکړای شول چې ښاغلی حامد کرزی د انتقالي دولت د مشر په حیث وټاکي؟! ښاغلی کرزی دغې لویې جرګې ته ژمنې وړاندې کړې چې یوه هم په کې د ملي جرګې یا د یوه کمیسیون جوړول او هغه داسې استدلال کاوه چې دا ملي جرګه به د ولسي جرګې پر ځای وي او حکومت به له خپل سر یو څخه د ملت ددغه استازو په وړاندې مسوول وي او حساب به ورکوي. هغه ویلي و چې دا کمیسیون به د لویې جرګې له همدې غړیو څخه جوړوي خو دا کار تر اوسه ونه شو ښه به دا و چې په همدغې لویې جرګې کې شوی وای.

دادی نن سبا د لویې جرګې له جوړېدو څخه اوه میاشتې په تېرېدو دی خو دغه کمیسیون او نور وعده کړای شوي کمیسنونه جوړ نه شول.

دوی وایي چې عیان ته د بیان حاجت نشته. موږ ستاسې د لویې جرګې له پاره د انتخاباتو د طرزالعمل جوړېدل او تطبیقیدل ولیدل چې دنړۍ په هیڅ راز دموکراسۍ کې ورته ساری او نوم پیدا کېدل ممکن نه دي. که د ملي جرګې د جوړولو د کمیسیون غړي غواړي چې لمر په دوو ګوتو پټ کړي خو دا کار ممکن نه دی. ټول افغان مومن او وطنپال ولس د لویې جرګې جوړېدل تدویر او د کار بهیر لیدلی، کتلی او اورېدلی دي. هیڅوک پر هغو نیمګړتیاوو، تورې پردې نشي غوړولی، افغان ولس اوس هغه وګړي نه دي چې نه له ځانه خبروي او نه له جهانه. موږ اوس په ملي او بین المللي سطحه پوهېږو چې څوک زموږ دوستان او څوک زموږ دښمنان وي. څوک موږ ته کار کوي او څوک د ځان له پاره څوک موږ غولوي او څوک ځان.

افغان ولس په دې نظر دی چې ددغه راز ملي جرګې جوړېدل چې هیڅ راز صلاحیت او د ملت له ملاتړ څخه برخمن نه وي نشي کولی د ملت په ګټه کار وکړي. پرته له دې چې په دولت کې د اصلي واک او خپل سر یو خاوندان په خپل کړه وړه پر دوی مني او هغو ته به قانوني بڼه ورکوي.

ددې سره سره بیا هم دغې لویې جرګې باید د نورو کمیسنونو د غړیو په ګډون د ملي جرګې غړي هم له خپل منځ نه انتخاب کړي وای چې لږ تر لږه یې یوه انتخابي بڼه میندلای وای او د ولس نماینده ګي دعوه به یې کولای شوای.

اوس که دغه غړي یو ځل بیا د څو تنو په خوښه د یو جوړ شوي طرزالعمل د مخې بیا غوره کړای شي یو خو دا چې ډېر وخت ترې تېر شوي او بل دا چې فکر نه کېږي چې هغوی دې خپلواک او آزاد واک ولري او په رښتیا دی د ولس نماینده وي دا ځکه چې هغوی به په فرمایشي توصیفاتو را منځ ته کېږي او خپل صلاحیت به دهغه چا مرهون بولي چې راغوښتې یې دی.

افغان ولس په دې نظر دی چې ددغه راز ملي جرګې جوړېدل چې هیڅ راز صلاحیت او د ملت له ملاتړ څخه برخمن نه وي نشي کولی د ملت په ګټه کار وکړي. پرته له دې چې په دولت کې د اصلي واک او خپل سر یو خاوندان په خپل کړه وړه پر دوی مني او هغو ته به قانوني بڼه ورکوي. افغانان په دې راز چل ول پوهېږي، د صرافانو په مخکې تقلبي پیسې چلول ممکن نه دي. موږ پوهېږو چې ددغه راز بې واکه ملي جرګې جوړېدل اصلاً ضرور نه دی. هغه د خلکو له منتخبو غړیو څخه نه جوړېږي چې دملت په ملاتړ وي د اجرائیه قوی د اعمالو او کردار کنترول وکړای شي.

ښه به دا وي چې ښاغلی کرزی صاحب دی خپل ټول واک او ځواک دې ته متوجه کړي چې موجود واکمن کسان دې په ښه توګه پر سمې لارې برابر کړي. که داسې اټکل وي چې دا ملت به یو څه موده پر دغو کړو وړو مصروف کړای شي او له خپلو اساسي حقوقو به بې خبره وساتل شي دا کار نشي کېدای. خلک حساب او کتاب لري. که شپې تیاره دي مینې په شمار دي. که دې ملت تر اوسه له چا نه حساب او کتاب نه دی غوښتې دا کار پخپله په تېره موده کې دولس بې خبرې ځرګندوي اوس خو موږ په تېرو ۲۵ کلونو کې هغه څه ولیدل، وکتل او وه مو کړل چې د راتلونکی د پاره مو ورڅخه ډېر څه زده کړل. نور باید دا ملت روند اوکوڼ ونه بلل شي.

غاور آرځي

دهېواد ځنګلونه وژغورئ

زموږ ګران وطن افغانستان غرنی هېواد دی. ددې غرنی هېواد ځانګړتیا په دې کې ده چې اکثر غرونه یې په ځنګلونو پټ او د هېواد طبیعي ښکلایي څو برابره زیاته کړې ده همدا لامل دی چې زموږ وطن د طبیعي مناظرو د درلودلو له برکته په نړۍ کې لوړ نوم لري او په اصطلاح د سویس د هېواد له طبیعي ښکلا سره تشبه کېږي چې دا زموږ د خلکو لپاره د زیاتې خوښۍ سبب دی.

ځنګلونه د یوه هېواد د چاپیریال په پاک ساتلو او د سیلابونو د راتګ په مخنیوي کې ستر رول لري. که چېرې موږ د خپل تاریخي هېواد نږدې ماضي ته ورو ګرځو نو د همدغو طبیعي ځنګلونو د شته والي له برکته مو زیاتې ځانګړتیاوې درلودې، د هېواد د چاپیریال هوا بیخي صافه وه او هېواد وال مو له زیاتو ناروغیو څخه مصئون وو، د سیلابونو له خطر څخه خوندي وو او چې هر څومره زورور باران به هم و اورېدو نو د همدغو ځنګلونو له برکته د سیلاب مخه نیول کېده، کروندو او ودانیو ته مو خطر او زیان نه متوجه کېدو.

خو له بده مرغه په نږدې تېره ماضي کې د نورو زیاتو بدبختیو تر څنګ زموږ ځنګلونه هم د پخپل سر ووهلو او له منځه وړلو له خطر سره مخامخ شول ان تر دې چې اوس زموږ د وطن زیاتره غرونه یا خو بیخي له ځنګلونو څخه لغړ شوي او یا یې هغه ګڼ ځنګلونه د له منځه تلو په حال کې دي. که څه هم دا د حکومتونو وظیفه ده چې د خپل هېواد د نورو ملي شتمنیو د ساتلو تر څنګ د وطن طبیعي ځنګلونه هم د له منځه تللو له خطر څخه وژغوري، خو په تاسف سره باید ووایو چې د څه د پاسه دوو تېرو لسیزو تاړاک موږ له دغه شان حکومتونو څخه بې برخې کړو نو حکومتونو ددې توان له لاسه ورکړ چې د ملي شتمنیو د ساتلو په اړه اقدام وکړي.

که څه هم د هېواد په ځینو سیمو کې د قومونو د مشرانو له خوا د ناغې د دود له مخې وخت په وخت د ځنګلونو د وهلو او له منځه وړلو د مخنیوي په اړه اقدامات شوي دي. خو چون دغه اقدامات له هر اړخیزې همکارۍ څخه برخمن نه وو، نو چندان دوام یې نه دی کړی او موږ ګورو چې همدا اوس هم په پکتیا او کونړ کې د ځنګلونو دوهلو او له منځه وړلو پروسه په چټکۍ سره روانه ده او دغه ملي شتمني د لرګیو سوداګرو ته په اجاره ورکول کېږي. هغوی کوښښ کوي د ځنګلونو دو هلو د فني لارو چارو پر خلاف د خپلې خوښې مطابق ونې ووهي چې بیا هغه ونه له ځان سره نورې زیاتې کوچنۍ. دودی په حال کې ونې هم له ځان سره ځملوي.

اوس د وخت غوښتنه داده چې، دولت او ملت دواړه په دې اړه ژور فکر وکړي او دګډو هلو ځلو په برکت ددغه ستر ملي زیان د مخنیوی لپاره داسې لارې چارې ولټوي چې له یوې خوا د پخپل سر د ځنګلونو د وهلو مخه ونیوله شي او له بلې خوا د ځنګلونو د بیا احیا لپاره منظم پروګرام تر لاس لاندې ونیسي.

او په دې توګه د هېواد دغه ملي شتمني چې زموږ لپاره حیاتي ارزښت لري د له منځه تلو له خطر څخه وژغوري.

عزوال

بی وسلی کولو ته دپلمو جوړول

دفاریاب د ولایت د المار په ولسوالی کی د دوه رقیبو ډلو ترمنځ دوسله والو نښتو له کبله په هغه ولایت کی دبی وسلو کولو کار په ټپه ودریدلو.

نښتی د جنرال دوستم او استاد عطا د پلوی قوماندانانو ترمنځ ونښتی اوسر بیره پردی چی دی دواړو ډلوتـه خانی تاوان ور اوښتی دی ، دسیمی خلك هم دخانی او مالی تاوانونو سره مخا مخ شویدی. او لاداسی هم انګیرل کیږی چی دغه ډلی دبی وسلوکولو پروګرام ته دخندونوا چولو په خاطر یو بل ته پلمی او بهانی لټوی ددغه دواړو ډلو ترمنځ نښتی په هغه ولایت کی څه نوی خبره هم نه ده، پخواهم ددوی ترمنځ په شمالی ولایتونو دهغی جملی څخه د بلخ، سمنګانو. فاریاب او جوزجان کی څو . څوځلی ورته نښتی شویدی چی ډیری دا نښتی دیوه اوبل دسیمو دلاندی کولو په خاطر شوی . چی دغوښتنو له امله زموږ په لس ها و اولسی خلکو دښځو او ماشومانو په ګډون خپل ژوند د لاسه ورکړی ، کورونه ئی د اوریه لمبوکی سوځیدلی او ډیرئی بیاد خپلو کورونو پریښودو ته اړ شوی دی. داخلی هم دیو اوبل دسیمی دلاندی کولو او په هغه ولایت کی د خپلو ډلو د نفوذ دسیمو دپراخوالو په خاطر دانښتی شوی دی. دغه جګړی دجمیعت دقوماندان فاروق او د دوستم دیوه قوماندان فتح الله تر منځ شوی دی ، دجمیعت قوماندان په داګه کړیده چی دغه سیمه کی دپوستو ویش عادلانه نه دی داخبره څه مفهوم رسولی شی ، غیر له دی څخه چی داسی تعبیر شی چی سیمی او منطقی دغه ښاغلی دیوه شخصی ملکیت ، دمطلق الحنانی ساحی او په خلکو باندی د خپلی خوښی تولواکی کولو سیمه او منطقه بولی . په دوی کی اوس هم . تنظیمی . سمتی . ژبنی او قومی غوښتنی ډیری پیاوړی دی . دوی اوس هم هرڅه په دی معیار ونو سنجوی . دوی اوس هم په دی سوچ کی دی چی زیاتی سیمی لاندی او پر زیاتو بی وزلو. بی وزلو. خوارو او مظلومو افغانانو دی تولواکی اوقوماندانی وکړی ، اوپه ډیره بی رحمانه توګه دی دهغوی په مال او حال تیری وکړی او د دوی څخه دی د پوښتنی هیڅ مرجع هم وجود ونلری. دوی اوس هم دمرکزی حکومت په هیواد کی د سولی اوثبات د پروسی او دوران او ویجاړ هیواد دبیارغاونی په پروګرامونو کی برخه اخستیل او ددغو پروګرامونو سره دملګر توب په تکل کی نه دی او په پای کی هغوی د خپل ژوند بقا په ټوپك او ټوپك سالاری کی ګوری. نو دامسولیت خوبیا د انتقالی اسلامی دولت دی چی دشوو وعده سره سم دبی وسلوکولو پروګرام په هغو سیمو کی په صلاحیته هیات لخواه چی دمرکز څخه ور واستول شی ، پیل کړی . او د دغه سیمی خلك دټوپك او ټوپکسالارانو د برمتی او ولقی څخه خلاص کړی. ځکه هلته موجود واکداران او قوماندان هیڅکله هم یواو بل نه منی او نه هم بی په یوه او بل خبره ښه لګیږی.

باتور



I wish I could go to school

Afghan Intelligentsia Must Come Home

The country has been destroyed during the conflicts of the past two decades. Most of our experts in many fields were forced into exile, and are now living in foreign countries, waiting for peace and stability, so they can return and use their skills in the reconstruction of Afghanistan.

At the present time, because the situation appears relatively peaceful, some Afghan experts have returned and are occupied with the reconstruction of the country. We can benefit from their education and experience in solving social, economic and political problems in our country.

Afghanistan would benefit greatly from the return of the many educated Afghans who continue to live abroad. We can achieve this goal if we offer these refugees a safe place to come home to, and a sense that they will be warmly welcomed when they arrive. If we really love our destroyed country, if we really want to be self-sufficient, if we want peace, and we try from the bottom of our hearts to stabilize our country, then we should put the interests of our nation before any desire for personal gain.

People here should be thinking about their country first, not just themselves. A proud and successful nation is one which pulls together to address the needs of the country. "Victory" should now means assisting one another in a critical situation, and sharing our experiences.

We hope all Afghans will feel for their country, and we encourage Afghan experts in all fields to return to their homeland, and help us in the reconstruction of this destroyed country.

What the people say!

People say:
Opponents of the Transitional Government have brought remote-controlled bombs from an Arab country into Afghanistan.

People say:
The Afghan director of one of the Mine Clearance NGOs has been deceived for the fourth time by "people smugglers." Every time his family wants to go abroad, he is forced to pay the smugglers millions of Pakistani rupees. Every time his family pays the smugglers, the latter simply take the money and run, failing to keep their end of the bargain.

People say:
An Afghan NGO director finally bought a Five Star hotel in a western countries. We congratulate him, his family, his relatives and the government officials and we hope the directors of the other NGOs have similar success in the same business.

People say:
After a year and a half of freedom, checkpoints have reappeared at Sorkhakhan, on the main Kabul-Jalal Abad road. Those manning these posts have resumed extorting money from travelers.

People say:
Academic scholarships offered by overseas institutions are being monopolized by government ministries for the benefit of themselves, their friends and relations.

People say:
Nepotism is rife within the government; experienced and qualified people, some of whom once had posts in the government, are being passed over in favour of relatives and friends. The Ministry for Martyrs and the Disabled leads the pack in this business.

People say:
The director of the "Millie bus" (National Bus Service) claims that they have provided the people with new buses. They say that they have given government ministries those vehicles which are inappropriate for use in a public bus service. But we all know that most of the ministries are using the new, imported buses for their transportation needs. It is not yet known if the "Millie bus" director has taken a bribe, or there is something else behind this situation.

People say:
It is unclear why ministers and officials fail to publicly report the results of their meetings. Or why respectable ministers do not inform the public about their day-to-day activities. Or why people who are failing to carry out their responsibilities have not been sacked. Perhaps they all related to one another, so noone can ask anyone else for an explanation.

People say:
Granting people titles like "professor," "master," "engineer," "doctor"… was rewarding to those who could scarcely read in war time, and became very famous using these titles. Now, when there is peace, the disabled are hired as pilots, and the "sportsmen" who have no talent are sent to compete abroad.

People say:
Does the transitional government actually ask high-ranking officials not to hold down two jobs, as required by law? How many government officials have a second job or two, or own an NGO?

(Khisraow Muhaya)

Following in the Taliban's Footsteps

The Supreme Court has outlawed cable TV networks, saying that they are against Islam. It would be fine if they could give the reasons for doing this. Otherwise, it seems as if the Taliban are still in power. Keeping girls away from education, preventing women from work, banning television programs, banning taking pictures, prohibiting cultural activities and celebrations, destroying libraries and burning books, destroying statues – all these were done because they were said to be un-Islamic.

This could just be the beginning – we might face more of it in the future.

Since we have freedom of the press here now, we would like to say that these kinds of decisions could be a big obstacle to development, and could alienate the international community.

This decree from Mowlawi Fazal Hadi Shinwari is a pro-Taliban decision.

The Nangarhar authorities passed this decision to the Supreme Court without even considering it themselves. It seems that the root of this decree lies with the authorities in NWFP, Pakistan, who collaborated with the Taliban. We have seen this kind of oppression before.

########################

Erada At Your Service

Erada in fulfilling its role, which is to serve the country and its citizens. It now has a greater circulation in the capital and provinces. It has planned to take a big step in publishing and advertising in the country.

Erada publishes announcements of missing children, mental patients, assistance of the welfare NGOs, Red Cross, Ministry of Education, Ministry Of Martyrs and Disabled and Immigration affairs free-of-charge.

Erada charges for publishing obituaries, messages of condolence, and missing documents.

Erada accepts advertisements from Government Administrations and Organizations at 50% discount.

Erada publishes business advertisements, advertisement for publicity of the national traders, internal and external NGOs with 30% discount.

Erada also gives free advice in arrangement of the advertisements and pictures for them.

Address: Office of Erada Publication, Parwan Mina, Haji Mir Ahmad Street # 95.

(Aimal Shafiq Dardmal)

America

Provides Afghanistan Television Transmitter

The United States of America has provided a TV transmitter to Afghanistan Central Television. The transmitter will be capable of broadcasting to receivers within a radius of 120-kilometers.

Aziz Arianfar, director of television programs, said that they would begin using this new transmitter in fifteen days, and that it would provide television programs to Parwan, Kaposa, Logar and Wardag provinces. He added that they would also increase broadcasts to eight hours per day from the current five hour/day schedule.

Japan has also pledged to help Afghan television increase its coverage to the entire country.

American Forces are searching for remnants of Al-Qaida and Taliban forces in Afghanistan. They have been attacked by rockets and light weapons many times, but news about the outcome of these attacks, particularly casualty reports, is scant.

Two Gunmen Arrested in Paktia

United States Special Forces arrested two men armed with a Klashinkov rifles and a hunting gun in Paktia province near the Pakistan border. A third armed man escaped.

Mullah Racketi is Thankful to Americans

Mullah Racketi, a well-known Taleban commander, has been released after spending eight months in the American military prison at Bagram.

In an interview with Radio Azadi (Radio Liberty), Mullah Racketi said that he was not mistreated while he was kept in prison. He said in his interview that he wanted to inform all Afghans that they should not believe reports of mistreatment of prisoners by American troops, as he felt these were simply unfounded propaganda. On release, he Americans wished him a restful and successful life, and he thanked them.

Wanted:

English-Language News Editor

Erada News paper needs a fluent English speaking Editor to edit the translations of Dari and Pashto texts published in its weekly English-Language supplement. A native speaker of English would be preferred; a background in journalism would be a plus. Erada is targeting an English language readership with its supplement, and wishes to raise the quality of its contents. Future plans are to publish the English-Language supplement daily.

Interested parties should contact Erada on 070-279-304 or come by the office.

Address: Parwan Mina, Cinema Baharistan, Haji Mir Ahmad street, house # 95.

Reminding:

Erada publishes two pages in English every Thursday. Thanks!

Editorial

Mr. Karzai! Do not create problems for yourself

